
،، ان من الشعر حكمة،، (الحديث)
د شعر و شاعرۍ په اړه
شرعي
حکم
مقاله
Ketabton.com
لیکوال
شریف الله تنها

(c) ketabton.com: The Digital Library

## معرفت

د ژانر ډول.......................................................... مقاله

د مقالې نوم................. شعر و شاعري او په اړه يې شرعي حُکم

ليکوال.................................................شريف الله تنها

د تليفون شميره.................................0093706996648

برېښنا ليک ...................shariftanha600@gmail.com

د واټساف شميره...............................0093779385830

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سریزه**

ځينې منابع شـاعر د قام سـترګې بولې او وايي چې شـاعر د خپل دين، کلتور، ژبې او ټولنې څرګندونکی وي. نو دا چې شـاعر دغه درنده ذمواري په خپلو اوږو اخيسـتې ده، بايد په احطياط سره قدم پوره کړي. ولې چې پوهان وايي درې څېزونه بايد په پام او احطياط سره پورته شي. لومړی قسم. مطلب دا چې د قسم په کولو کې له احطيات څخه کار واخلي. دوهم قلم، ولې چې که د قلم په واسـطه يو شـخص دواړه جهانه يعنې دنيا او خت ګټلی شي، نو دغه دواړه له لاســه ورکولای هم شي او دريم قدم دی چې بايد په پام سره کېښودل شي.

د ځينو شاعرانو شعرونو دې ته اړ کړم چې د شعرو شاعرۍ په اړه شرعي منابع يعنې قرآن او حديث مطالعه کړم، نو يوه طرحه وه چې د خدا په توفيق او د ملګرو په تشويق مې عملي جامه ورواغوسته.

د دې مقالې له ليکلو څخه زما هدف مقدس دين اسلام، خوږې ژبې پښتو او ادب ته خدمت کول دي او ارزښت يې په دې کې دی چې يو خو موضوع نوې ده او بله دا چې نن سبا ورته اړتيا تر حده ډېره ده.

دا چې په پښتو ژبه کې مې په دې اړه ډېر څه نه وو لوستي، شايد چې زما دا کوچنۍ هڅه يو نوښت وي.

په دې اړه ما ته ډېرې پوښـتنې پېدا شـوې وې لکه.آيا اسلام موږ ته د شعر د ويلو،ليکلو او اورېدلو اجازه راکوي؟ سـتر خالق الله رب العزت په دې اړه څه فرمايلي دي؟ آيا د نبي(ع) په وخت کې شـعرو شـاعري شـوې وه او که شوې وه نو نبي(ع) يې په اړه څه ويلي دي؟ له مطالعې وروسته مې دغه ټولې پښتنې ځواب شوې. د دې مقالې په ليکنه کې مې د کتابتوني څېړنې او تشريحي مېتود څخه ګټه اخيستې ده.

نور نو سـتاسې او مقالې تر منځ د بېلتون دېوال جوړېدل نه غواړم. په مينه او مننې مو د مقالې لوستلو ته رابولم.

په درنښت

شريف الله تنها

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شعر و شاعرۍ په اړه شرعي حکم

په خپله شاعري کول او یا بل ته د شاعرۍ ورزده کوله په خپل ذات کې کومه بده خبره نه ده،بلکې په عام ډول د ادب علم یوه ښـــایســـتــه او غوره عمل دی،خو د نورو کارونو پخېر په دې معملې کې هم افراط او تفریط تر سترګو کېږي.

که یو لوري ته ځنې خلک په مطلق ډول شـعر و شـاعري باطلوي،خو بل لوري ته داسـې خلک هم شتون لري چې د شاعرۍ علومو ته ډېر احترام کوي او په دغه احترام کې د انتها تر حده رسېدلي دي.

په دې باب کې معتدله نظریه دا ده،که چېرته په شـاعرۍ کې ښه فکر و خیال راوړل شي نو،غوره او ګټور څیز دی او خدای مه کړه که چا په شـعر و شـاعري کې منفي او ناسـم مقاصد وړاندې کړل،نو دغه ډول شاعرۍ ته ناسمه او مؤضره شاعري ویل کېدای شي.

مثبته او منفي دواړه ډوله شـعرونه د لوسـتلو او اورېدلو لپاره تر لاســه کېږي.په هر حال د یو معتدل فکر څیښـتن به په دې اړه دا پرېکړه کوي چې کوم شخص ښه او د اصولو مطابق شاعري کوي نو ښه کار کوي او چا چې خپلې شاعرۍ ته ناسم رنګ ورکړ،نو ناسم کار کوي.

زما په اند شـعرو شـاعري لکه د ژبې مثال لري، او په پښـتو کې یو متل دی چې خپله ژبه هم کلا ده هم بلا. مطلب دا چې ژبه که ښـه اسـتعمال شي نو د خدای د رضـامندی، د دنیاوي او اخروي ګټو سـبب جوړېدای شي او که بده استعمال شي نو هم خدای ناراض او هم دې دنیا او اخرت برباد.

یا د شـعرو شاعرۍ مثال د یوې تورې او یا کومې بلې وسلې دی، د جهاد لپاره یې کاروې او که د جهاد پر ضد یې کاروې.

شـعرو شـاعري یو وسـله ده چې خدای (ج) یې توان شاعر ته وربښلی دی. دا چې شاعرې د دغې وسلې استعمال په څه ډول کوي اختیار یې د همده په لاس کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله رب العزت په سورة شعراء کې فرمايي:

وَالشُّـــعَرَاءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَـاوُونَ﴿۲۲۴﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّهُمْ فِي كُلِّ وَادٍ يَهِيمُونَ﴿۲۲۵﴾ وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ﴿۲۲۶﴾ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَذَكَرُوا اللَّهَ كَثِيرًا وَانْتَصَرُوا مِنْ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا (الشعراء)

ژباړه: او شاعران چې دي ، په هغوی پسې خو گُمراهان خلک روان دي. آيا ته نه گورې چې هغوی په هره کنـده کې سرگردان گرځي او هغه څه وايي چې نه يې کوي. ليکن له هغو خلکو پرته چې ايمان يې راوړ، نېـک عملونـه يې وکړل، اللــه تعـالی يې ډېر ډېر يـاد کړ او چې کله پرې ظلم وشـــو، نو يواځې بدله يې واخيسته.([1])

پروفيسـور شـفيق الرحمن د دغو اياتونو په تفسـير کې ليکي: ((پورته چې په شاعرانو کوم بد ويلی شوي دي، په هغې کې هغه شـاعران نه دي شـامل په کومو کې چې دا څلور صفتونه شتون لري. لومړی دا چې هغه به مومن وي. دوهم دا چې نېک عمله او صـالح به وي. دريم دا چې الله ج به ډېر ډېر يادوي. څلورم دا چې د کوم ذاتي غرض لپاره به د چا بد نه بيانوي، البته کله چې د ظالمانو په مقابل کې د حق د مرســتې لپاره اړتيا پيښه شي، بيا له ژبې څخه هغه کار اخلي، کوم چې مجاهد له تورې او غشي څخه اخلي.)) ([2])

د دغو اياتونو په تفسـير کې شـيخ ابي ذکريا عبدالســلام الرستمي په تفسير احسن الکلام کې ليکي:(( په دې ايات کې د دويمې شــبهې ځواب دی. منکرينو به ويل چې نبي (ع) شــاعر دی او دا قرآن د ده شــعر دی. د منکرينو په نزد دا ثابته وه چې شاعر شعر لره په درغو ښايسته کوي او په خلکو باندې اثر کوي، نو اوس په دريو طريقو سره ځواب ورکوي. په دغه ايات کې د ځواب لومړۍ طريقه دا ده. استدلال بالصاحب والقرين. يو متـل دی چې ســـړي تـه مـه گوره، ملگرو ته يې وگوره. يعنې د شـــاعرانو ملگري گُمراهان، بدمعاشـان او فاسقان وي او د دې نبي (ع) ملگري سجده کوونکي، ژړا کوونکي او د دنيا سره محبت نه کوونکي دي. د ځواب دوهمه طريقه دا ده چې شـــاعران بې هوده کلام وړاندې کوي او متضـــادې خبرې کوي. د دنيا د لالچ له امله د چا مدحه او د چا هجوه کوي. او د يَهِيمُون په لفظ کې د وگو تگو اوښـــانو سره د دوی تشــبيه ورکوي چې په هرې کندې کې د خوراک او څښـــاک په حرص گرځي او هر چې د دې

[1] قرآن مجيد، پښتو ترجمه: فروفيسر شفيق الرحمن
[2] قرآن مجيد، پښتو ترجمه: فروفيسر شفيق الرحمن، ص ۱۷۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرآن او نبي (ع) حـال دی، نو د هدايت او حکمت له خبرو څخه ډک دی.... دريمه طريقه د ځواب دا ده چې د شـاعرانو قول او عمل مختلف وي. د رسول الله (ص) د محبت شعرونه وايي، خو صورت او سيرت يې د هغه خلاف وي. نورو خلکو ته د نېکو اعمالو، ســخاوت او داســې نورو ترغيب ورکوي، خو پخپله پرې عمل نه کوي....دا چې په شــاعرانو کې په حقيقي مانا مومنان هم شــته لکه په صــحابه کرامو کې حسان بن ثابت (ض) او نور، نو له دې امله د هغوی استثناء کوي او څلور صفتونه ذکر کوي ايمان، عمل صـالح، ذکر کثير او بدله يا انتقام اخيستل. يعنې د دوی په اشعارو کې ايمان او اعمال صالحو ته ترغيب وي، د الله تعالی په حمد او ثنا باندې مشــتمل وي. هر کله چې کافران د نبي(ع) د مســلمانانو او يا د اســلام هجوه وکړي، نو دوی لپاره د انتصـار او د هغوی په هجوه کې ځوابي شعرونه وايي. څکه چې دا هم يو ډول جهاد بالسان دی. دا مشهوره خبره ده چې د غشي ټپ جوړېږي خو د ژبې نه.))([3])

په دغو اياتونو کې الله تعالی شاعرانو ته د سرکښانو نسبت کړی دی، خو دا استثناء يې هم ذکر کړې ده او واضـحه يې فرمايلي دي.که په شـاعری کې دغه دغه سـتونزې او خرابۍ شـتون ونه لري، د ايمان او نېک عمل تقاضـاوې پکې له پامه ونه غورځول شي، شـاعرانه تخيلات د دين او مذهب په خلاف اسـتعمال نه شي، نو پـه دغـه شـــاعرۍ کې هېڅ حرج او تنګي نشــتــه. په دغه ايات الکريم کې د ظالم څخه د غچ اخيســتنې ذکر په ځانګړي ډول څکه شوی دی چې په هغه دور کې شاعري د پروپاګندې لپاره ډېره مؤثره ذريعه ګڼل کېده. کوم شــاعر چې به په قصــيده کې د يو چا هجوه بيان کړې وه نو، همدغه قصــيده به د خلکو په ژبو باندې جاري وه.ځينو فاسـقانو د نبي صلی عليه وسلم په اړه داسې اشعار ويلي و چې په دغو شعرونو سره په کفري ټولنه کې پېژندل شوي وو. ځينو صحابه کرمو لکه حضرت حسان بن ثابت (ض) او حضرـت عبدالله بن رواحه (ض) د دغو کافرانو په ځواب کې د نبي(ع) په شان کې نعتيه قصيدې وويلې او په دغو قصيدو کې يې د کُفارو اعتراضونو ته ځوابونه ورکړي و، بلکې د هغوی حقيقت يې ثابت کړ.نو په دغه ايات کې الله (ج) د دغو صحابه کرامو(ض) د شاعری تايد وکړ.

---

[3] تفسير احسن الکلام،شيخ عبدالسلام رستمي: ص، ۳۶۹،۳۷۰،۳۷۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شعر په اړه نبي (ع) فرمايي:

ان من الشعر حكمة.([4])

ژباړه: له شک څخه پرته ځينې شعرونه د حکمت درلودونکي وي.

د حکمت ويي(لغت) بېلابېلې معنې لري لکه: عقل، پوهه، ځرکتيا، مصلحت، خير خواهي، غوروالی، درملنه، د يو څيز حقيقت، تدبير، جوړښت، هغه علم چې په هغه کې مشاهده، غور او فکر او په دلايلو سره حقيقت معلومېږي،منطق، فلسفه او داسې نور...

موږ داسې شعرونه لرو چې په هغو کې داسې خبرې ذکر شوي وي چې عقلمند ورڅخه پند اخيستلای شي.لکه يو شاعر ليکي:

د ساعت ټک ټک هسې ټک مه گڼه

د ژوند په ونه دې د تبر گوزارونه کېږي

داسې ډېر اشعا به مو تر سترگو شي چې په هغو کې به د د علم او پوهې خبرې راغلي وي. لکه رحمان بابا چې وايي:

کـــــــــر د گلو کړه چې سيمه دې گلزار شي

اغزي مه کره په پښو کې به دې ښـــــــــار شي

ته چې بل په غشو ولې هسې پو شـــــــــه

چې همدا غشی به ستا په لور گوزار شــــــي

ځنې شعرونه داسې هم شته چې انسان ته د ځيرکه اوسېدلو پيغام ورکوي او د دروند خوب له سلسلو يې روباسي. چې لاندې بيتونه يې ښه بېلگه کېدای شي:

---

[4] صحيح البخاري.كتاب الادب.باب مايجوز من الشعر...۶۱۴۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هـــــــره ونه خپله خپله مېوه نيسې

په نارنج کې مې انار ليدلـــــى نه دى

هر سړى د خپل مطلبه پورې يار دى

ما د خـــــداى لپاره يار ليدلى نه دى

دا او داسې نور ډېر شعرونه شته چې په هغو کې شرعي اصول په نظر کې نيول شوي دى او په ټولنه کې د مثبت بدلون لامل کېدلاى شي.

د شعر د ويلو لپاره فقهاى کرام جلا جلا نظرونه لري.

(۱) حضرت ابن قدامه رحمة الله عليه فرمايي:

د شعر په ويلو کې د هېڅا اختلاف نشته صحابه کرامو(ض) او علماو کرامو شعرونه ويلي او ليکلي دي، خو په عربي شعرونو باندې د پوهېدو لپاره دا اړينه ده چې عربي ژبه سمه زده کړاى شي، تر څو د قرآن الکريم،تفسير او حديثونو په علومو او معرفت کې اسانوالي پيدا شي.

(۲) ابن العربي رحمة الله عليه فرمايي:

((شعر د خبرو يو ډول دى)).

(۳) امام شافعي رحمة الله عليه فرمايي:

شعر په خپل ذات کې بد نه ښه څېز دى، بلکې ښه شعر ښې خبري او بد شعر بدې خبرې دي.

په هر حال په مستقل او پرلپسې ډول د شعرونو ويلو او ليکلو ته علماو مکرو ويلي دي. ولې چې د نبي(ع) ارشاد مبارک دى فرمايي:

«لان يمتلى جوف احدكم قيحاً خير له من ان يمتلى شعرًا»[5]

---

[5] صحيح البخاري.کتاب الادب.باب مايکره ان يکون الغالب على الانسان الشعرا...۶۱۴۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: که له تاسې څخه د يو کس خېټه له وينو زو[6] څخه ډکه شي، له هغه څخه دا ښه ده چې د هغه خېټه دې د شعرونو څخه ډکه شي.

په پای کې به دومره ووايم چې د داسې شعر ليکل او ويل ستونزمنه ده چې په هغه کې دې شاعر د کره کتنې د نظرونو ښکار جوړ نه شي، خو په شعرو شاعرۍ کې د داسې څه وړاندې کول اسان دي چې په سبب يې شعر او شاعر ته د صفت او ستيانې په نظر وکتل شي.

[6] له وينو زو څخه په دلته حقيقي مانا د مسلمان غيبت وي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**